په ژمنیو رخصتیو کې ماشومان زده کړو ته څه ډول وهڅول شي

ښوونه هغه سترالهي نعمت دی، چې انسانان دجهالت تورو تیاروڅخه درڼا لوري ته بیایي، دهمدې پوهې په برکت دنړۍ ټول زیږندې او اختراعات رامنځته شویدي. ددې لپاره چې دغې خوندورې میوې څخه موږ پوره ګټه واخلو او عمل پرې وکړو، ټولو هیوادوالو ته لازم ګڼو، چې خپل ماشومان او کورنۍ دزده کړæ لورې ته وهڅوي، زده کړې پرې وکړي، ښوونځي، دیني مدرسو او نور ښوونیزæمرکزو ته یې ولیږي او همدارنګه لوړې زده کړې چې راتلونکې سرنوشت یې جوړولای شي.

آشپاړلس کلورا په دیخوا کله چې په افغانستان کې لنډمهاله اداره رامنځته شوه؛ افغان غیرتي ولس او میشته قومونو په دې پوه شول، چې دتعلیم څخه نور داسې لاره نشته، ترڅو دټولنې په پرمختګ او دخلکو په پوهاوي کې مثبت بدلون راشي، نو په دې اساس دولت هم دښوونیز سیستم په بیا جوړونه کې قانوني ګام پورته کړل او دهیوادوالو لپاره یو ملي نصاب رامنځته کړ، چې ورسره ولس په دې لاره کې دوی ته لبیک وویل او خپل ماشومان یې ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو ته ولیږل. چې په تدریجي ډول دښوونې کچه ورځې تربلې او کال په کال زیاتیدل، چې دامهال په هیواد کې دښوونځیو، دیني مدرسو، پوهنتونونو او ترڅنګ یې خصوصي ښوونځي او پوهنتونونه جوړ او په فعالیت یې پیل کړ آ آ، چې دا په جوته توګه دخلکو مینه او علاقه دعلم او زده کړې سره ښیي، چې دوی دښوونې په پیاوړتیا کې هلې ځلې ترسره کړې او غواړي، چې نور دهیواد څخه دنا پوهي کچه له منځه ولاړه شي.

داچې افغانستان دژمې په موسم کې تودې او سړې سیمې لري، نو په تودو سیمو کې ښوونځي او ښوونیزمرکزونه فعال او دسړو سیمو ښوونځي په دریو میاشتو کې رخصت وي او زده کوونکي په کور کیږي، نو باید دکور مشران او پلرونه خپل ماشومان وهڅوي، چې دژمې موسم څخه دزده کړو دترلاسه کولو لپاره دراتلونکي ښوونیزکال دپیل لپاره بشپړه تیاري ونیسي او په راتلونکو درسي چارو کې ستونزې ونه لري.

خپل ماشومان دې دبې ځایه ګرځیدو او بې ځایه لوبو کولو څخه منعه کړي، ژمني کورسونو ته دزده کړو لپاره او همدارنګه دیني مدرسو او دکلي جوماتو ته دولیږي، ترڅو ددغه دریو میاشتو څخه پوره ګټه واخیستل شي.

د دوی دپوهې دکچې په لوړتیا کې هم مثبت بدلون راتلای شي او دوخت دضایعه کیدو مخه هم نیول کیږي، ځکه وخت سره زر دی، ربښتیا هم وخت تلونکي ده او بیرته نه راګرځي، دیوې توري اوکلیمې زده کړه دټول عمرهوساینه او آرامتیا ده، نو باید ټولو لپاره اړین وګڼو، چې خپل اولادونه زده کړې، تعلیم او پوهې ته تشویق کړي، چې ماشومان د خپل دځان راتلونکې دلاس امساء وګرځي. زده کړه Ïå، چې څوک دکسب او کارخاوندان کوي او ورسره دکورلپاره حلاله نفقه او روزي ترلاسه کولای شي او علم ددنیا او آخرت لپاره کښت دی، چې څوک یې زده کړي. په خپلو ماشومانو زیار وباسئ، چې دښوونځیو او پوهنتونو زده کړو ترڅنګ دیني زده کړې هم وکړي، ځکه تنها په عصري زده کړو بسنه ونشي او په خپل دین او مذهب هم موږ باید برلاسي ولرو، ترڅو مو په آخرت کې دجنت له خوږو میوو څخه برخمن شو. دعلم ترلاسه کول ددنیا او خرت بریالیتوبونه دانسان په برخه کیږي، په دنیا کې دناخوالو او بدبختیو سترلامل دجهالت تورې تیارې دي، چې ددې له منځه وړلو لپاره یواځې پوهې او تعلیم ته باید کار وشي او دعلم زده کړه په هیواد کې دیو فرهنګ په توګه وکارول شي. راځئ، چې دعلم ډیوې دهیواد په ټولو کلیو، باندو او ښارونو کې ځلانده بلې وساتو، دناپوهۍ پروړاندې ټول مسؤل یاستو، چې ستره مبارزه پیل او دهیواد څخه دجهالت تغرټول او دسولې، ملي یوالي او وروګلوي فضا رامنځته کیدو ټولنه مو دعلم په جامه سینګار کړو.

لیکنه : شیرمحمد»امیني« ستانکزی

تجاوز روس ها درافغانستان

شش جدی 1358 نماینگر جنایت بزرگی قشون سرخ شوروی دربرابر میهن عزیزمان میباشد، سی وهشت سال قبل از امروز درششم جدی سال 1358 ارتش سرخ با زیر پا گذاشتن تمامی معیارهای جهانی، خاک افغانستان را از زمین وهوا مورد تجاوز قرارداد، بیش از یکصدهزار عسکر روسها با امکانات قوی نظامی وارد افغانستان شدند وبا فکر استعمار و حمایت طرفدارانش وارد جنگ شدند که نتیجه آن جز بدبختی وروی سیاهی چیزی دیگری را برای آنها به بارنیاورد.

تجاوز ارتش سرخ درست زمانی صورت گرفت که رژیم دولت حفیظ الله امین با خیزش های مردمی و قیام همگانی درحال سقوط بود و این میتوانست منافع شوروی سابق را که در وجود جریان های چپی درافغانستان حراست میشد با خطر مواجه سازد. زمامداران آن وقت وروسها با اتخاذ تصمیم گرفتن به تجاوز و اشغال افغانستان نه تنها با سرنوشت و آینده یک کشور مسلمان بازی کردند و نه تنها جنایات جنگی را دراین کشور مرتکب شدند بلکه اعتبار و عزت خود را درمیان جهانیان æحتا درمیان کشورهای که از لحاظ اعتقاداتی و استعماری نفوذ داشتند، ازدست دادند.

شش جدی روز تاریک و سیاه درتاریخ معاصر افغانستان بشمار میرود. هر چند ارتش شوروی بعد از ده سال مقاومت افغانها، مجبور به ترک این کشور شد و این شکست سبب تضعیف نظام کمونستی آنها درسراسر جهان گردید، با یک دید کل روس ها سرافگنده ازکشورما خارج شدند اما جنگ، بدبختی، تعصبات وآتش تباهی دراین کشور شعله آن ازهمان زمان تاحال سایرنقاط کشور را آسیب رسانده است و این آتش خاموش نشده است.

با آنکه از فرار ارتش سرخ از افغانستان 28 سال سپری شد مگر جنگ وبحران همچنان از افغانها قربانی میگیرد و صلح هنوزهم برای افغانها به حیث یک رویا ومعما باقی مانده است. امروز هرمصیبت و ویرانی که درکشور وجود دارد ریشه äدر تجاوز ارتش سرخ تعلق دارد زیرا تجاوز بدون دلیل و بدون توجیه آنان بود که زمینه ساز، شکل گیری افراطیت درمنطقه گردید و درکنار آن دست کشور های دیگر را درعرصه مداخله درامور افغانها بازتر ساخت.

تجاوز روس ها æاشغال افغانستان باعث ویرانی زیر بنا Ì در کشور ما شد وکوشش برای رهایی از کمونیزم و اخراج ارتش سرخ جان صدها هزار افغان ها را گرفت درضمن بیش ازیک میلیون افغان ها معلول و مهاجر شدند. تجاوز ارتش سرخ باعث عقب ماندگی افغانها از کاروان رشد و توسعه شد.

تجاوز و مداخله درافغانستان ادامه دارد دست های دیگر به نام های دیگر درتلاش اند تا خود را حاکم سرنوشت این مردم سازند درحالیکه مقاومت دربرابر ایده ها و پدیده های بیگانه جز سرنوشت افغانها ست و این کشمکش ها باعث ریختن خون بیشتر افغانها و تخریب بیشتر کشورشان شده است و هنوزهم افغانستان با ثبات سیاسی، امنیتی و اقتصادی فاصله دارد. دشمنان این کشور هیچگاهی دربرابر مردم ما آرام نبوده اند وتصور همکاری ازسوی دشمنان این کشور پروراندن آن درذهن جزیک خیال بافی چیزی دیگری نیست.

واقعیت این است که ما خود را درعمق این حوادث ثابت کنیم بیان حوادث گذشته میتواند درس عبرت و عامل رهنمایی ما به سوی آینده باشد و اکنون وقت آن رسیده که دولتمردان ما دست به کار شوند و با قوت ایمان و وحدت ملی، مردم را منسجم ساخته برای ایجاد یک جامعه روشن و قوی دست به کار شویم و خود رادرمیان جامعه جهانی ثابت بسازیم

ترتیب کننده : امین الله »صفا«

بقیه صفحه دوم حق جستجوی... درنیتجه درمورد اطلاعات که برمیگردد به رسانه های جمعی وکارمندان رسانه ها آنرا ازادارات دولتی وغیردولتی جهت پخش ونشرتقاضا مینمایند، دراین مورد قانون حق دسترسی به اطلاعات مطرح میگردد که درآن بخش، حدود گیرنده اطلاعات وحدود دهنده اطلاعات مشخص شده است وبرما لازم است که درکسب اطلاعات وپخش ونشرآن منافع ملی، ارزش های فرهنگی، ارزش های دینی ووحدت مردمانرا درنظرگیریم تا رسالت ایمانی ووجدانی خویش را به وجه احسن انجام دهیم، همچنان باید منبع(دهنده اطلاعات) وگیرنده äÏÇÏÑÏ(پیام) ازتمام جوانب قانون حق دسترسی به اطلاعات آگاهی کامل داشته باشند.

محمدزاهد (سلطانی)

په افغاني ټولنه کې دانګیرنو(فالونواو شګونونو) دودونه

دپښتو شفاهي ادبیاتو کې یوه غوره څانګه انګیرنې(فالونه او شګونونه) دي، چې لرغونې لرلري.

انګیرنې(شګونونه) دهیواد په ډیریو سیمو کې تراوسه هم رواج دی، چې دغه کړنې له پخوانیو خلکو موږ ته راپاتې دي، ځکه پخواني ولسونه دعلم او فرهنګ څخه دومره برخمن نه ؤ، دوی دخپلو عقایدو او افکارو له مخې دپیښو او واقعو لاملونه دخپل قضاوت له مخې ټاکل، چې ګویا دغه عمل دخلکو په زیان او یا په ګټه یې دی.

خو فالونه او انګیرنې په وروسته پاتې ټولنو کې لاهم دود دی، چې ډیري ولسونه پدې عقیده څرګنده وي، وایي، چې دغه عمل سم او واقعیت لري، خو داسلام له شرعي احکامو له مخې نباید په دغوناسمو عقیدوي افکارو سړی عمل وکړي؛ بلکې دا په اسلامي ټولنه کې یو زیږنده عمل بلل کیږي او ناروا هم دی.

فالونه او شګونونه په هغه ټولنه کې چې انسانان یې دعلم او یا تجربو مرحلو ته نه وي رسیدلي، نو دپیښو دعلت دمعلومولو لپاره دعقیدې دلایلو او خیالبافیو څخه کار اخلي، چې په نابېره توګه انسان کومه پیښه په سترګو ویني اویا په غیر ارادي ډول دانسان دبدن کوم غړي یې په حرکت شي، نو ددې لپاره انګیري چې ګوندې له دغې پیښې سره مخ اویا دخوښۍ کوم خبر ترلاسه کوي، چې په حقیقت کې دغه عمل هیڅ کومه مانا نه ورکوي او یو خرافاتي عمل دی.

دانګیرنې یا فالونو زیانونه او ګټې ډیري انسانان تراغیزې راولي، که چیرته څوک کوم فال په بد شګون وویني کیدای شي، تر ډیر وخت پورې به دسوچونو په دنیا کې غرق وواسي او آن تردې چې په رواني ناروغۍ هم اخته کیدای شي او هغه کسان چې شګون یې په نیک عمل ښودل شوی وي، دا کس به هم د ډیرو وختونو انتظار ته شیبې شمیري، چې کله به دخوښۍ له پیښو سره مخ کیږي.

که ولیدل شي، په ورسته پاتې ټولنو په ادبیاتو کې فالنامې هم لیدل کیږي، خو په دغه لیکنه کې به یواځې په فلکلوري انګیرنو خبرې وشي. داهغه فالونه دي، چې زموږ د ولسونو ترمنځ باور یې زیات دی، چې دهیواد په ډیري سیمو کې ډول ډول انګیرنې شتون لري، چې ځیني انګیرنې یې منثور او ځیني یې په منظوم ډول دي.

په وروسته پاتې ټولنه کې فال اچول او یا فال لیدل دځینو مرادونو لپاره هم کارول کیږي او ځیني کسان دخپل ځان ډاډه کولو لپاره فال لیدونکو ته ورځي. نو انګیرنې یو خیالي او ذهني نقشي دي، چې دخلکو په ذهنونو کې ګرځي، که اوس ځیر شو نو دغه انګیرنې ورځې تربلې دخلکو له یامه غورځي او ځای یې دپوهې ډیوې نیولې دي، چې داهم دخلکو په پرمختګ کې ستر رول لیدل کیږي او که دانګیرنو نړۍ ته مخه شي، دابه ولسونه نورهم دجهالت کندې ته وغورځوي او هیڅکله به دانسانانو دفرهنګ په تکامل کې پرمختګ ونه لیدل شي. ځکه ټولنه په فرهنګ ژوندۍ پاتې ده، که فرهنګ د وخت په اساس وده ونکړي، نو ټولنه هم ورسته پاتې وي او دپرمختګونو سبب نشي کیدای.

خو باید دغه انګیرنې هم له پامه ونه لویږي، ځکه دا زموږ دفرهنګ برخه شمیرل کیږي، ولې عملي بڼه په دیني ارزښتونو سره ورنکړل شي، ځکه دا دفلکلوریک ادبیاتو برخه ده، نو کوښښ دې وشي، چې دخپلو فلکلوریک ادبیاتو بډاینه په سمو کړنو او فرهنګي ارزښتونو سره وشي.

دلوګر په سیمه او دهیواد په ولایتونو کې ورته انګیرنې په لاندې ډول دي، چې دځینو یادونه یې دلته کوæ.

۱ – که دچا ښی لاس وتخنیږي وایي، چې پیسې ترلاسه کوي او که دچا کیڼ لاس وتخنیږي، وایي، چې پیسې یې له لاسه ځي.

۲- دچای څښلو په پیاله کې دشمې لوی خولکی چې ولیدل شي وایي، چې کورته یې میلمه راځي.

۳- دچا زنه چې وتخنیږي وایي، چې په کور کې ماشوم دنیا ته راځي.

۴ – دلاسو او پښو دګوتو نکان یو ځای غوڅول وایي، چې غم او ښادي په یو ورځ وي.

۵- دکلیانو شړنګول وایي، چې جنګ نښلي.

۶ – ښی سترګه الوتل وایي، چې خوښي ویني او کیڼه سترګه الوتل وایي بد خبر ترلاسه کوي.

۷- د اوړو لندولو پرمهال یوه ټوټه یې الوتل، په دې مانا چې کورته میلمه راځي.

۸ - کله چې د دو کسانو ترمنځ لفظي شخړې شي، نو دریم شخص به دخپلو لاسونو نکان یو بل سره جنګوي. وایي، چې په جنګ واوړي.

۹ - دچا دکور په بام کله چې کاغکی ناړې وهي، دکور خلک له ځان سره وایي، چې ښه خبر، دا په دې مانا چې مسافرېې کور ته راځي.

۱۰ – ژبه دغاښونو لاندې کیدل په ناپامې ډول، وایي، چې چاه مې غیبت وکړ.

۱۱- دسترګو دوریځې په سر دیو کوچني خزلې نښل وایي، چې کالي څوک راته کوي.

۱۲ - په شپه کې دچرګې آذان په دې مانا چې دکور څښتن خپل سر خوري او کورنۍ یې وایي، چې باید دغه چرګه ژر ترژره حلاله شي.

۱۳- د ډوډۍ خوړلو پرمهال پرنجی کول، په دې مانا چې نږدې دوست دې یاد کړي.

امیني

پیام ریاست مبارزه علیه مواد مخدر ولایت لوګر

هموطنان عزیز!

1 – **بااستعمال موادمخدر آینده خود وخانواده تان را به تباهی نکشید .**

2 – **کشت کننده گان موادمخدر به جزای حبس محکو شده وتمام دارایی شان مصادره میگردد .**

3 – **بیاید باکشت مشروع زراعت خویش را توسعه داده وجامعه رانیرومند بسازیم .**

4 – **مبارزه مثمر با موادمخدر مستلزم تقویت زیرساخت های فرهنگی وگسترش حوزه اگاهی عمومی درکشور است .**

د ښځو په ژوندانه کې د ښوونې او روزنې رول

کوم انسان چې علم او پوهه ولري، هغه کولای شي د ژوندانه لپاره ښه تګلاره غوره کړي. انسان د پوهې او علم په رڼا کې کولای شي چې خپل ځان وپیژني او له خپلو حقونو نه باخبره شي.

اوس چې ښځو ته د زده کړې زمینه برابرشوې؛ نو لازمه ده، چې زمونږ خویندې ترې ګټه پورته کړي او د خپلو وروڼو سره څنګ په څنګ د علم د لاسته راوړلو په خاطر لستوڼي بډ وهي.

انساني ټولنه ښځو ته په ټولو څانګو کې اړتیا لري، بې له ښځې ټولنه نیمګړې وي که ښځه مور وي د خپلو ماشومانو د روزنې عمده مسؤولیت په غاړه لري او په دې هم باید و پوهیږي، چې له اولادونو سره څه ډول چلند وکړي دا ټول هغه ټکي دي، چې ښځه کولای شي د زده کړو په لړ کې ترې باخبره شي بل ټکی چې د یادولو وړ دی هغه د ښځو اسلامي حقوق دي چې تر اوسه افغاني ښځې ترې بې خبره او لیرې پاتې آ أ.

که ښځه علم او پوهه ولرأ له خپلو شرعي حقوقو څخه به خامخا باخبره شي او بیا به دې ته اړتیا پیدا نه شي، چې ورته وویل شي د ښځو وتل له کوره غیر اسلامي کار آی لکه څنګه چې د علم حاصلول پر نارینه و فرض بلل کیږي. ښځې هم دا مسؤولیت لري، چې زده کړې وکړي البته په اسلامي قوانینو برابر که چېرې افغاني ښځې د زده کړو په زرینو ګاڼو سینګار شي نیک او ښه فکر لرونکي ماشومان ټولنې ته وړاندې کړي هیواد به له بحرانونو څخه خلاصی ومومي.

روښانه خبره دا ده چې باسواده ښځې کولای شي د خپلو اولادونو په روزنه کې مثبت رول و لوبوي خو دا کار بیا بیسواده ښځه په اساسي توګه نه شي تر سره کولای که په یوه کور کې کوم نارینه باسواده شي هلته به یو کس باسواده وي که چېرې په یوه کور کې یوه ښځه باسواده شي نو ښکاره خبره ده چې ټوله کورنۍ به ورسره د زده کړو له نعمت څخه برخمنه شي.

ښځه نه یوازې د زده کړې له برکته کولای شي د کورنۍ اقتصاد تقویه کړي بلکې د دې وړتیا هم لري چې په کورنۍ کې سالم نظام راولي د ښځو په ژوندانه کې د ښوونې او روزنې رول بې ساري ده ښځه کولای شي د پوهې په درلودلو سره د کورنۍ چاپېریال روغ رمټ وساتي د ژوندانه په اصلي مانا پوهه شي په دې و پوهېږي چې د ژوندانه کوم قوانین دي څه حقوق راکړل شوي دی د کورنۍ حقوق او د ټولنې د وګړو حقوق پر ما څه دي او زما پر دوی څه حق دی؟ دا هغه مسایل دي چې کیدای شي انسان یې د پوهې او علم د حاصلولو په برکت خپل کړي.

لیکنه : بصیره شجاع »ستانکزی«

اطلاعیه آمریت مالداری و صحت حیوانی ...

- بعد از هر بار تماس با آبخوره، دانه خوره و محصولات مرغ از دستکش و ماسک استفاده نموده دست های خویش با آب گرم و صابون شستشو نمایید.

اگر زاغ های خود مرده و پرنده های وحشی خود مرده و یا تلفات ناگهانی در فارم های مرغداری را مشاهده نمودید بطور عاجل به شماره های ذیل به تماس شوید.

0780320649/0700147969/ 0700973002

0786130005/ 0700035435